

**لیکونکی :** شرمین ناروانی« S. Norwany »

**منبع اودخپریدو نیټه :** کریدل «2024-01-04»

**ژباړونکی :** پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل» .

---

# غزه د لوېدیځ د وېش او واکمنی روایتونه له منځه وړي

## *Gaza destroys western divide-and-rule narratives*

***له هغه وخته چې پرغزې داسرایلو برید پیل شو، درې جلا نظرپوښتنې ښيي چې عرب او مسلمان نفوس د واشنګټن له سیمه ییزو متحد ینو څخه خپل ملاتړ د لویدیځې اسیا د مقاومت د محور په لور اړوي.***

***Since Israel's assault on Gaza began, three separate polls show that Arab and Muslim populations are shifting their support away from Washington's regional allies toward West Asia's Axis of Resistance***




****************

*دایعنی دولویدیځ د واکمنی د پالیسي له مینځه وړل کیدای شي چي یو پاک سویپ «جاړوکول» د لویدیځ تر مشری لاندې د لسیزو داستانونه چې په ټوله لوید یځه آسیا کې د توپیرونو څخه د ګټې اخیستنې لپاره جوړ شوي دی اووسی، کوم چي ولویدځ د سیمې د بې شمیره ټولنو په منځ کې شخړې رامینځته کوي، اوداځکه چي دلویدیځ بهرنۍ پا لیسی دادی چي خپل اهداف د جنګید ونکواصلي خلکو په سرونوکې پرمخ وړي کوم چي د ا پا لیسی اوس د ویجا ړیدو په حال کې دي .*

*داسی په نظر راځی چي دغزي جګړه دغربی نړی دافسانوی دروغو په مینځ کي څه د پا سه یوما یل ژوروالي «ګړنګ» رامینځته کړي دي کوم چي ولویدیځ دایران داسلامی انقلاب یعنی له کال «1979» څخه راهیسی په غربی آسیا کي د هغه سیمی په هیوادونو کي د خپلمینځی شخړي په را مینځته کولو سره دهغه سیمی دهیوادونو حواس بل خواته اړولی یا منحرف کړي دي چي یی اوس دلویدځ نړي درسوایي کا سه دغزی دجګړی په ترځ کی له بامه را غورځی !!!*

*د شیعه په مقابل کې سني، ایرانیان د عربا نو په مقابل کې، سیکولر د اسلامپالو په مقابل کي : دا د لویدیځ درې ګونی تر ټولو ناوړه داستا ني چلونه دي چې د سیمې او د هغې سیمی د وګړو د کنټرول او لاربښوونې په لټه کې دي، او حتی عرب واکمنان یې له بی دینه اسرائیلو سره اتحاد ته اړ کړي دي.*

## حقیقتونه افسا نی له منځه وړي:

*دا یوه نادره شخړه وه - د واشنګټن لخوا «اومه» یا نه پخه شوی او بې کنټروله نیم شعوری حالت-او د لویدیز آسیا خلک د دوی له داستاني جریان څخه خلاصول . په غزه با ندې داسرایلو نسل وژنې هم دا پوښتنې سمد ستي روښا نه کړې چې کوم عرب او مسلمانان په حقیقت کې د فلسطین د ازادۍ ملاتړ کوي او کوم یو هم نه کوی.*

*ایران، حزب الله، د عراق د مقا ومت ډ لې، او د یمن انصا رالله حرکتونه دی– چې د دې غربي داستا ن جوړونکو یا درواېتګرانو له خوا بدنامه شوي – اوس په ښکاره ډول دوی یواځنی سیمه ایز لوبغاړي دي چې د غزې په لومړۍ کرښه کې د فشا رد راوستلو یا دپلي کولو لپاره چمتو دي، کوم که دهځی اواند څه د بسپنو(مالی منابعو)، وسلو او یا هم د وسله والو ښټو له لارې چې هد ف یې د اسراییلو دنظا مي سرچینې کمزورې کول او خپرول دي . .*

*د لویدیځ متمرکز، استبدادي عرب دیکتاتورانو په نوم چې د واشنګټن د ګټو تابع دي، د "متوسط عربیا نو" په نامه یادیږي، یعنی هغه عربیانو چي د د غزې د وژنې لپاره غیر دځو تشوخبرو یاد د شونډو په ښوررولو سره نور څه نه دی وړاندی کړي .*

*سعودیانو د عربي او اسلامي غونډو په کوربه توب د ملاتړ غوښتنه وکړه چې اجازه یې نه درلوده او څه ونه ویل .**اماراتو** او **اردن** اسراییلو ته د اکمالاتو لارې لېږدولې چې*

انصارالله د سمندر له لارې بندي کړې .ځواکمن مصر د پلاوي کوربه توب وکړ کله چې ورته اړتیا وه د رفح کراس(بازکردن رهرو رفح را برای عبور ومرور) خلاصول وو ترڅو رسنیو او په لسګونو ملیون لاریون کونکو روښانه کړي دي: فلسطین د عربي او مسلمانو اصلي لامل پاتې دی؛ دا کیدای شي خړوب او جریان ولري، مګر هیڅ شی د حق او باطل ترمنځ د دې ځا نګړې جګړې په څیر د سیمې د خلکو د سوځولو ځواک نلري. کوم چې فلسطینیان وخوري. یا یی وځپی ! قطر – چې یو وخت د حما س لوی تمویل کونکی و - اوس د اسراییلي بند یا نو دآزادۍ لپاره خبرې اترې کوي، پداسې حال کې چې د حما س "اعتدال پسند" کوربه توب کوي، چې د غزې د آزادۍ جنګیا لیو سره مخالفت لري .او د اسراییلي اشغا لګر دولت سره د ترکیې سوداګري اسما ن ته روانه ده (صادرات د نومبر څخه تر دسمبر 2023 پورې 35 سلنه زیات شوي).

فلسطین، د لویدیځ پلوه "معتدل عربانو" لپاره یو بیرغ دی چې په احتیا ط سره اداره کیږي یا چې په احتیاط سره رپول کیږي یعنی چې دوی دغه بیرغ کله ناکله دعامو خلک دلیدلو لپاره پورته کوي، مګرپه شخصي توګه د فلیسطینیا نو حق اوحقوق تخریب کوي . نو، یعنی چې دوی نن ورځ ، بدل اوډارن شوی دي، هغه څه چې په تولنیزو رسنیو کې ترسترګو کیږي

## د مقاومت په لور بدلون

په سیمه کې د مقاومت د محور او د اسرایلو د متحدینو تر منځ د جګړې په پیل کې لا تر اوسه لومړنی ورځې دي، خو تولپوښتنې لا دمخه د پخواني نظریاتو په لور د خلکو په احسا سا تو کې د پام وړ بدلون ښیي .


د عرب بارومیټر تولپوښتنه چې د شپږ اونیو په موده کې ترسره شوې - درې اونۍ دمخه او د الاقصی سیلاب عملیا تو څخه درې اونۍ وروسته - د عرب دخلکو نظرونو د بدلون لومړی نښه وړاندې کوي .که څه هم دا سروې یوازې په تونس پورې محدوده وه، خو رایه ورکوونکي استدلال کوي چې دا هیواد " هغوی ته نږدې دی لکه څنګه چې یو یې تصور کولی شي" او دا د نورو عربي هیوادونو په څیر د نظرونو استازیتوب کوي:


" شنونکي او چارواکي کولی شي په خوندي ډول فکر وکړي چې د سیمې په نورو ځا یونو کې د خلکو نظرونه د وروستیو بد لونونو په څیر بدل شوي دي." خصوصاً په تونس کې.

متحده ایالاتو ولیدل چې د دوی د خوښې شمیره خورا ټیټه شوې ، ورپسې د لویدیځ آسیا متحد ین دي چې له اسراییلو سره یې اړیکې عادي کړي . روسیه او چین، دواړه بې طرفه دولتونه، لږ بدلون تجربه کړی، خو د ایران مشرتا به د دوی د خوښې ارقام لوړ کړل.دعرب بارومیټرله مخې :

*له بریدونودرې اونۍ وروسته، دایران سترر هبر**علي خامنه** اي دتا یید درجه  بندي کړه  چې  د سعودي ولیعهد **محمد بن سلما ن**  اوداماراتو   **ولسمشر محمد بن زاید** سره سمون خوري یا حتی پورته وه ".*

*د اکتوبرله ۷مې مخکې، یوازې ۲۹سلنه تونسیانو د خامنه ای د بهرنیو تګلاروپه اړه مثبت نظر درلود . دا شمیره د سروې د نتیجې له مخې ۴۱ سلنې ته  لوړه  شوه،  د تونس ملاتړ په هغووړځوکې چې د اکتوبرپه ۱۷مه دایران د مشر له خوا په غزه کې د اسراییلو کړنو ته د "نسل وژنې" په توګه اشاره وکړه، د پام وړ و.*




## د سعودي  بدلون

*د اکتوبر د 7 د عملیا تو د مخه د  فلسطین  مقاومت لخوا  د اسراییلي اردو د غزې ځانګې ویجاړولو اود ډله ایزو بند یا نودتبا دلې لپاره د استفادې په توګه د بندیانو اخیستل،*

د سیمې اصلي جیو پولیټیکل تمرکز د تل ابیب سره د سعودي د عادي کولو معاملې په امکاناتو باندې و .د متحده ایالاتو د ولسمشر **جو بایډن** اداري په هر فرصت کې دا آس په دره«متروکی» ووا هه .دا د هغه د راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو لپاره د سرو زرو ټکټ په توګه لیدل کیده .

مګر د الاقصی سیلاب عملیا تو د سعودي عربستا ن لپاره - د اسلام ترټولو سپیڅلي ځایونو کور - د دې سیاسي معاملې مهر کولو لپاره هر فرصت له لاسه ورکړ .او په غزه کې دفلسطیني ملکي وګړوپه اړه هره ورځ د اسراییلو هوایی بریدونو باران سره ،د ریاض اختیارونه کمیږي .

د واشنګټن انستیتیوټ یوه تولپوښتنه چې د نومبر له 14 څخه تر 6 دسمبر پورې ترسره شوې د سعودي عامه احساساتو کې د زلزلې بدلون اندازه کوي : په سلو کې 96 د دې خبرې سره موافق دي چې "عربي هیوادونه با ید سمد ستي په غزه کې د اسرائیلو د پوځي اقدام په اعتراض کې له اسرائیلو سره ټولې ډ یپلوماتیکي ، سیا سي ، اقتصادي او نورې اړیکې پرې قطع کړي " .

په همدې حال کې ۹۱ سلنه په دې باور دي چې «له ویجاړیو او تلفاتو سره سره په غزه کې دا جګړه د فلسطینیا نو، عربانو او مسلمانانو بریا ده «.دا د یو داسې هیواد لپاره یو ټکان ورکوونکی بیان دی چې د لویدیځ فلسفې ته نږدې پیروي کوي چې غواړي فلسطینیان له عربو څخه، عربان په خپل منځ کې، او مسلمانان په فرقه ایزو کرښو - له جغرافیایي، کلتوري او سیاسي پلوه جلا کړي .

که څه هم سعودي عربستان یو له هغو څو عربي هیوادونو څخه دی چې حماس یې د تروریستي سازمان په توګه نومولی دی ، خو د حما س په اړه مثبت نظرونه په سلو کې 30 زیا ت شوي، د اګست په میا شت کې له 10 سلنې څخه په نومبر کې 40 سلنې ته، پدا سې حال کې چې ډیری - 95 سلنه - باور نلري ۰فلسطیني مقاومت ډلې د اکتوبر په اوومه ملکي وګړي ووژل .

په همدې حا ل کې ۸۷ سلنه سعودیان له دې نظر سره موافق دي چې «وروستي پیښې ښیي چې اسراییل دومره کمزوری او په کور دننه ویشل شوی دی چې یوه ورځ به مات شي «. په حیرانتیا سره، دا د اوږد مها له مقا ومت محور مخنیوی دی. د حزب الله عمومي منشي **حسن نصرالله** د ۲۰۰۰ کال د مې په ۲۵ مه د لبنا ن د مقاومت له خوا د ماتې په وخت کې په مشهوره وینا کې ویل شوي وو چې «اسرائیل د مکی له جال څخه هم کمزوری دی «.

د اکتوبر له اوومې مخکې سعودي له اسراییلو سره د اقتصادي اړیکو ټینګولو پلوي و، خو بیا هم دا شمیر د تیر کال له ۴۷ سلنې څخه نن ۱۷ سلنې ته راښکته شوی دی .او

په داسې حا ل کې چې د  مقاومت د محور په اړه د سعودي چلند منفي پاتې دی - سعودي عربستان، بالاخره، د 1979 له انقلاب  راهیسې د ایران ضد او شیعه ضد پروپاګند سیمه ایز مرکزو - دا ممکن  په  لویه  کچه  دا وي  چې  د دوی  رسنۍ په پراخه کچه کنټرول شوي .د عربي خلکو د نظرونو  برعکس، 81 سلنه  سعودیان  لاهم  په دې باور  دي چې محور "د فلسطینیا نو سره د مرستې لپاره زړه نازړه دی.

## د فلسطینیا نو په لړ لید کی بدلون :

د عربي مفکورو د بحث لپاره مسا وي یا برابر اهمیت  ورکونه د اکتوبرله ( 7) نیټې څخه راهیسې پخپله د فلسطینیا نو ترمنځ لید ل کیږي . یوه نظرپوښتنه  چې  د فلسطین د پا لیسی اود سروې څیړنې مرکز  (PSR)لخوا د نومبر د 22 او د دسمبر تر 2 نیټې پورې په اشغال شوي  لویدیځ  با نک  او دغزې تړانګه کې ترسره شوې دعرب دعا مه خلکو نظرونه منعکس کوي ، مګر د ځینې لنډیزونو یا کوتاهي  سره .

د غزې ځواب ویونکو، په پوهیدلو سره، د حما س د عملیا تو  د "سمیت"  په  اړه د الاقصی سیلاب په اړه ډیر شک څرګند کړ، کوم چې په پټه کې د اسراییلو  د نسل وژنې برید پیل کړ چې تر اوسه یې 22,000 ملکي وګړي - چې ډیری یې  ښځې  او ما شومان دي - په وحشیانه توګه وژل شوي دي .پداسې حال کې چې د حماس ملاتړ یوازې د غزې په تړانګه کې یو څه زیا ت شوی، دا   په  لوید یځه غاړه کې  درې  چنده  شوی ، دواړه فلسطیني سیمې د لویدیځ ملاتړ لرونکي فلسطیني اداري (PA) لپاره نږدې  مساوي کرکه څرګندوي، کوم چې د رام الله څخه اداره کوي .


د PA د سرپرست ولسمشر **محمود عباس** او د هغه د فتح ګوند ملاتړ سخت زیانمن شوی .د هغه د استعفا غوښتنې نږدې 90 سلنه دي، پداسې حال کې  چې  نږدې  60 سلنه (ددې مسلې په اړه تراوسه پورې د PSR په ټولپوښتنه کې ترټولولوړه شمیره ثبت شوې)د سروې شویو کسا نو څخه د PA تحلیل غواړي .

په سلو کې 60 فلسطینیان (په لویدیځه غاړه کې نږدې 70٪) په دې  باور  دي چې وسله واله مبارزه د اشغال پای ته رسولو لپاره غوره وسیله ده، او 72 سلنه د دې خبرې سره موافق دي چې حما س د اکتوبر په 7 د عملیاتو پیل کولو سمه پریکړه کړې، او 70 . په سلو کې موافقه وکړه چې اسراییل به په غزه کې د فلسطین مقاومت له منځه وړلو کې پاتې راشي .

فلسطینیان د سیمه ایزو او نړیوالو لوبغاړو  په اړه قوي  نظرونه لري،  چې دوی په لویه کچه دا احسا س کوي چې غزه یې د  نړیوالو قوانینو  د بې سا ري  سرغړونو  څخه خوندي سا تلې ده .

تر دې دمه د ځواب ويونکو لخوا ترټولو ملاتړ شوی هیواد **یمن** دی چې د 80 سلنه تصويب درجه لري ، ورپسې قطر (56 سلنه) ، حزب الله (49 سلنه) ، ايران (35 سلنه) ، ترکيه (34 سلنه) ، اردن (24 سلنه) دی .مصر (23 سلنه)، متحده عربي امارات (8 سلنه)، او سعودي عربستان (5 سلنه) .


**Figure (8):** Now I will ask you about your satisfaction with the role of a number of Arab and regional actors in this last war (said they are "satisfied")




په دې نظرپوښتنه کې، د سيمې د مقاومت محور د خوښې په درجه بندی کې برلاسی دی، په داسې حال کې چې د امريکا پلوه عرب اومسلمان هیوادونه چې يو څه له اسراييلو سره اړيکې لري، خرابه ده .د يادولو وړ ده چې د څلورو ترټولو غوره هيوادونو او ډلو څخه چې ډيری يې سني فلسطينيان دي، دريې يې د "شيعه"محور اصلي غړي دي، پداسې حال کې چې د سني په مشرۍ پنځه دولتونه په ټيټه درجه کې دي .

د فلسطين دا نظر غير سيمه ايزو نړيوالو هيوادونو ته غزيد لی، ځواب ورکوونکي د مقاومت د محور متحد ينو روسيه (22 سلنه) او چين (20 سلنه) څخه راضي دي، پداسې حال کې چې د اسراييلو متحد ينو جرمني (7 سلنه) فرانسه (5 سلنه)، انګلستا ن (4 سلنه) په سلوکې، اومتحده ايالات (1 سلنه) د فلسطينيانو ترمنځ د اړيکو ساتلو لپاره مبارزه کوی

**Figure (9):** Now I will ask you about your satisfaction with the role of a number of international actors in this last war (said they are "satisfied")



# شمیرۍ په راتلونکي جنګ پورې اړه لري

درې جلا نظرپوښتنې ښيي چې د غزې په اړه د اسراییلو د جګړې په اړه د عربا نو نظرونه په ډراماتیک ډول بدل شوي، د خلکو احساسات د هغو دولتونو او لوبغاړو لپا ره جذب شوي چې په فعاله توګه د فلسطین د اهدافو ملاتړ کوي، او د هغو کسانو څخه لیرې دي چې د اسراییلو ملاتړ کوي .

نوی کال د دوو مهمو پیښو سره پیل کیږي لومړی له غزې څخه د اسرایلي محافظینو وتل دي، که د واشنګټن غوښتنه وي، یا د اشغالګرو سرتیرو د ژوند د دوام او تېپي کیدو له امله .دویمه د جنوری په دوهمه د لبنان په بیروت کې د حما س د مشر صالح العروري او شپږو نورو کسانو د وحشتناکه وژنه ده .

ټولې نښې ښيا نې دا دي چې د اسراییلو جګړه به نه یوازې دوام وکړي، بلکې په سیمه کې به پراخ شي . په سور بحر کې د متحده ایالاتو نوي سمندري جوړونې نور نړیوال لوبغاړي په ترکیب کې راښکاره کړي ، او تل ابیب د لبنان حزب الله په لوی ډول هڅولی دی.

خو که د دواړو محورونو تر منځ ټکر زیات شي، نو د عربو انګېرنه به تقريباً د پخوانیو تسلط څخه د هغو کسانو په لور ودرېږي چې په سیمه کې د امریکا او اسرائیلو د دغه برید په وړاندې مقاومت کوي .

د واشنګټن او د هغې د متحدینو لپاره به د جګړې په پراخیدو سره هیڅ ډول راحت نه وي .هرڅومره چې دوی د حما س د ما تولو او د غزې د ویجاړولو لپاره کار کوي، او هرڅومره چې دوی په یمن، عراق او سوریه کې توغندي توغوي او د مقا ومت محور محاصره کوي، په هماغه اندازه به د عربو نفوس د سني - شیعه، ایران – بمقا بله مخه ونیسي - .عرب، او سیکولر-مقا بله-اسلامي روایتونه چې سیمه یې د لسیزو راهیسې ویشلې او په تضاد کې ساتلې ده .

د ملاتړ هغه پرسوب چې د سیمې د لویو ظالمانو په وړاندې د صادقانه مقابلې له امله متحرک دی د نه درېد و وړ دی .په سیمه کې اوس د غرب زوال ورکول کیږي، خو د دې جګړې لومړی زیا ن غربي تفکر دی



## دلیکونکې په اړین څو کرښې :

**شرمین نارواني د منځني ختیځ جیوپولیټیک سیاسي شنونکې او مبصره ده او د اکسفورډ پوهنتون د سینټ انتوني کالج پخوانۍ جګپوړې همکاره ده .**

---------------------------------------- په درناوی «08-01-2024»